10. محمدی، سپیده، صالحی، مختار، مقدمه پژوهشی: اقتصاد سیاسی راه‌ابریشم جدید چین و وابستگی متقابل ایران، **فصلنامه علمی مطالعات روابط بین‌الملل**، 1401

۱۱. مولایی، علی سجادی‌مولایی، کارکرد بحران در سیاست خارجی پاکستان، **اطلاعات روز، ۱۴۰۰/٤/۲۷**

۱۲. یوسفی، دوکتور عطاالله، راهی بیرون رفت از بحران چهارده جنگ افغانستان، **گفتمان دموکراسی برای افغانستان، ۱۳۹۹**

13. Basu, Ajeyo, **Pakistan helps China steal Baluchistan's resources as locals remain impoverished**, First post, 21.1.2023.

14. Rafiq, Arif, **The China-Pakistan Economic Corridor; Barriers and Impact**, United States Institute of Peace, No 135, 2017.

15. Uzair Younus, **Pakistan's Growing Problem with its China Economic Corridor**, United States Institute of Peace, 2021.

**16.** Yousufzai, Gul; Jorgic, Drazen, **Pakistan to open up mineral-rich Baluchistan to China 'Silk Road' firms**, Reuters, Jun,2,2017

**17. The passage of the Silk Road through the Wakhan Corridor and security-economic advantage for Afghanistan and the region**

❖❖❖

## د کانونو په سکتور کې د اسلامي امارت لاسته راوړنې

دکتور محمد فیصل*

**لنډیز**

افغانستان د نړۍ پر مخ هغه هېواد دی چې د ټریلیونونو په ارزښت تر ځمکې لاندې طبیعي کانونه او زېرمې لري. د بېلابېلو څېړنو له مخې افغانستان د فلزاتو، صنعتي منرالونو او ودانیزو توکو پراخې سرچینې لري. لیتیم، یورانیم، سره زر، سپین زر، اوسپنه، مس، المونیم، سرب او جست، شوکانې، کرومایټ، نفت، ګاز او داسې نور له هغو مهمو زېرمو څخه دي، چې ډېری یې لا نه دي سپړل شوي. که یاد کانونه په مسلکي او تخنیکي ډول وسپړل شي، پرته له شکه چې د هېواد اقتصاد به ورسره په پښو ودرېږي. همدا لامل دی چې د بهرني اشغال له ختمېدو وروسته، اسلامي امارت د کانونو سکتور ته ډېره توجه کړې او د استخراج او پروسس چارې یې د پخوا په پرتله په تېزۍ سره روانې دي، چې د ملي بودیجې په تمویل او د زرګونه کاري فرصتونو په رامنځته کولو کې یې پام‌وړ مرسته کړې ده. دا چې د اسلامي امارت د حاکمیت دوه کاله پوره شول دا پوښتنې مطرح کېږي چې اوسمهال د هېواد د کاني زېرمو وضعیت څه ډول ارزول کېږي؟ په دې برخه کې کوم مهم پرمختګونه شوي؟ او اوسنی حکومت یې په اړه څه لاسته راوړنې لري؟ دغه مقاله چې په توصیفي-تحلیلي میتود لیکل شوې همدغو پوښتنو ته ځواب وایي.

**کیلي:** افغانستان، کانونه، اسلامي امارت، لاسته راوړنې.

---

* د بهرنیو چارو وزارت، د ستراتیژیکو مطالعاتو مرکز څېړونکی

**سریزه**

که څه هم د افغانستان د کاني زېرمو په اړه ډېرې څېړنې نه دي شوې؛ خو بیا هم پخواني شوروي اتحاد او له هغه وروسته د امریکا متحده ایالاتو په ځینو برخو کې ابتدایي سروې‌گانې کړې دي. دغه څېړنې ښيي چې افغانستان د سرو زرو، سپینو زرو، مس، لیتیم، یورانیم، المونیم، پلاتینیم، تاتینیم، گرانیت، تالک، تراورټین، نفت، گاز، زمرد، لاجورد، مرمر او ډبرو سکرو پراخې زېرمې لري، چې د لیتیمو ارزښت یې تر نورو هغو خورا ډېر دی، او ننني نړۍ ورته له بل هر وخت ډېره اړتیا لري. نړیوالې څېړنې ښيي چې لیتیم هم د تېلو په شان په چټکۍ سره په یوه ستراتیژیک محصول بدلېدونکی دی. دا ځکه چې لیتیم د موبایلونو، کمپیوټرونو او الکترونیکي موټرونو د بطریو سربېره د انرژۍ په تأمین کې هم کارول کیږي. د یادونې وړ ده چې په دې وروستیو کې یوه بهرني شرکت یوازې د افغانستان په لیتیمو کې د ۱۰ ملیارده ډالرو په ارزښت پانگونې ته لېوالتیا ښودلې ده.

د لویو کانونو له ډلې د حاجیگک د اوسپنې کان د اسیا تر ټولو لوی او په نړیواله کچه د لویو کانونو په کتار کې راځي. همداراز د عینک سیمې د مسو کان د نړۍ د څلورو سترو کانونو په کتار کې راځي. له بلې خوا د هېواد د نفتي حوزو او د ډبرو سکرو زېرمې دومره سترې دي چې هم د هېواد د اړتیاوو بسنه کوي او هم یې بهرنیو هېوادونو ته صادرولی شو. د ډبرو سکرو په برخه کې لومړنۍ څېړنې ښيي چې له بدخشان ولایت څخه رانیولې تر هرات ولایت پورې سلگونه کیلومتره رگ تر خاورو لاندې پروت دی، چې لا هم نه دی سپړل شوی. پر لیتیمو، اوسپنې، مسو، او ډبرو سکرو سربېره افغانستان د قېمتي ډبرو، سرو او سپینو زرو او نورو بېلابېلو قیمتي منرالونو او صنعتي فلزاتو لویې او کوچنۍ زېرمې لري چې نړیوالو یې ټولیز ارزښت تر درې ټریلیونه ډالرو اټکل کړی دی.

د اقتصاد پوهانو له نظره، که د هېواد کاني زېرمې په مسلکي ډول استخراج او د هېواد دننه پروسس شي، په ډېره کمه موده کې به افغانستان پر خپلو پښو ودریږي او د سیمې پر بډای هېواد به بدل شي. دا چې پر اسلامي امارت له بندیزونو وروسته افغانان له اقتصادي

پلوه له ګڼو ستونزو او ننګونو سره مخ شول؛ اسلامي امارت د کانونو په سکتور کې داسې پرمختګونه او اقدامات ترسره کړل، چې د هېواد اقتصاد یې له ګډوډېدو څخه وژغوره او مثبت لورې ته یې سوق کړ. له نېکه‌مرغه اوسمهال په افغانستان کې سرتاسري امنیت خوندي او خپلواک مرکزي نظام رامنځته شوی، چې ورسره د اقتصادي پرمختګ او چټکې ودې هیلې هم په غوړېدو دي. دا چې اسلامي امارت پخپل دوه کلن مزل کې د کانونو په سکتور کې څه لاسته راوړنې لري؟ په دې مقاله کې هڅه شوې چې همدغې پوښتنې ته ځواب وویل شي.

### ۱. پانګونې

له شک پرته، کورنۍ او بهرنۍ پانګونه کولای شي د اقتصادي ودې، کارموندنې په زیاتوالي، د انفلاسیون کنټرول، د اسعارو په ثبات، د مالیاتو له لارې د عوایدو په زیاتوالي، د وارداتو په کمېدو او د صادراتو په زیاتېدو، پرمختللې ټکنالوژۍ ته زمینه برابرېدو او په ټوله کې د هېواد له بیارغونې او اقتصادي ټیکاو سره مرسته وکړي.

افغانستان په بېلابېلو سکټورونو لکه انرژۍ او برېښنا، کرنې، روغتیا، کانونو، پټرولیم، صنعت، معلوماتي ټکنالوژۍ، سوداګرۍ او زیربنایي پروژو؛ لکه سرکونه، ریل پټلۍ، صنعتي پارکونو او بندرونو کې د پانګونې لپاره ډېر فرصتونه لري. د دغو شتمنیو او سرچینو سربېره، د افغانستان مساعد موقعیت او سرتاسري امنیت د پانګونې تر پاملرنې لاندې دی. په ټوله کې دا سوال مطرح کیږي چې د اسلامي امارت له واکمنېدو وروسته، کوم لاملونه دي چې کورني او بهرني پانګوال د کانونو په سکتور کې پانګونې ته را مات کړي؟ په دې اړه لاندې ټکو ته اشاره کولی شو:

۱- له طبیعي سرچینو بډایه هېواد؛

۲- ځوان، وړ او ارزانه کاري ځواک؛

۳- د سوداګرۍ او کاروبار لپ لګښتونه؛

۴- د سوداګرۍ ترسره کولو لپاره پراخه چاپېريال؛
۵- د سوداګرۍ لپاره وړ بازار او لږ شمېر سيالان؛
٦- په زړه پورې مالياتي کڅوړې؛
۷- د سيمه‌ييز اتصال له لارې نړيوالو بازارونو ته لاسرسی؛
۸- دوه اړخيز او څو اړخيز سوداګريز تړونونه؛
۹- د سوداګرۍ نړيوال سازمان غړيتوب؛
۱۰- په هېواد کې سرتاسري امنيت؛
۱۱- د پانګونې ملاتړی حکومت؛
۱۲- د بهرنيو پانګه والو لپاره د اسانتياوو په موخه د واحد مرکز جوړول؛
۱۳- د پانګونې اسانه قوانين؛
۱۴- د سوداګريزو شخړو د حل په موخه قضايي ارګانونو ته اسانه لاسرسی؛

پورتني ټکي په ډاګه کوي چې اسلامي امارت د اقتصاد محوره پاليسۍ په غوره کولو سره کورنيو او بهرنيو پانګوالو لپاره خوندي چاپېريال او لازمې اسانتياوې برابرې کړي، او په دې برخه کې هرې همکارۍ ته ژمن دی. بناء کورني او بهرني پانګوال په پوره ډاډ سره کولای شي چې په افغانستان کې پانګونه وکړي. د رياست الوزراء د اقتصادي معاونيت د معلوماتو له مخې؛ د اسلامي امارت په لومړي يونيم کال کې لسګونو لويو بهرنيو شرکتونو په افغانستان کې د شاوخوا ۱۰ ميلياردو ډالرو په ارزښت د پانګونې لپاره لېوالتيا ښودلې (د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت، بې‌تا). له بلې خوا په دې وروستيو کې، چينايي پانګه والو يوازې د ليتيمو په زيرمو کې د ۱۰ ملياردو ډالرو په ارزښت د سرمايه ګذارۍ لېوالتيا ښودلې (Ariana News, 2023).

د کانونو او پټروليم وزارت سرپرست په وينا ياد وزارت ته د پانګونې په موخه، هره ورځ بهرني شرکتونه مراجعه کوي، چې ښه بېلګه يې د ۱۴۰۲ لمريز کال د سنبلې په ۹مه د ياد وزارت او د يو لړ افغاني او بهرنيو شرکتونو ترمنځ د ٦،۵۵۷ ملیارد ډالرو په ارزښت د

۷ سترو کانونو قراردادونه لاسليکول وو[1]. بله ښه بېلګه يې له چينايي شرکت سره د آمو سيند د نفتي حوزې تړون دی چې په راتلونکو دريو کلونو کې به ۵۴۰ ميليونه ډالره پانګونه وکړي. د ياد وزارت د رسمي آمارو له مخې يوازې تېر کال (۱۴۰۱-۱۴۰۲) د هيواد په بېلابېلو ولايتونو کې ۱۰۸ کوچني کانونه کورني پانګه والو ته په قرارداد ورکړل شوي، چې د معدن کارۍ په مختلفو مرحلو کې قرار لري (د کانونو او پټروليم وزارت، ۲۰۲۳). له دغو پانګونو سره هيلې راټوکېدلې چې افغانستان به د اقتصادي ثبات پر لور حرکت پيل کړي.

## ۲. د لوی مقياس کانونه[2]

په پيل کې بايد وويل شي چې د کانونو او پټروليم وزارت د معلوماتو پر بنسټ، اسلامي امارت په تېرو دوو کلونو کې ۲۰۰ د لوی او کوچني مقياس کانونه په قراداد ورکړي (د کانونو او پټروليم وزارت، ۲۰۲۳). په لاندې کرښو کې همدې مهمو کانونو ته اشاره کوو:

**۱- د تخار طلا:** د تخار ولايت د چاه آب ولسوالۍ د طلا کان چې ۱۲ کلومتره مربع مساحت لري د چاينا-افغانستان او د زړور افغانستان شرکتونو سره د ۵ کلونو لپاره لاسليک شو. د قرارداد له مخې ياد شرکتونه به ۳۱۰ مليون ډالره پانګونه کوي. په دغه کان کې د دولت سهم ۵٦ سلنه او د شرکتونو سهم ۴۴ سلنه ټاکل شوی.

**۲- د مس عينک (۲) کان[3]:** د لوګر د مس عينک (۲) کان چې ۲۴۵ کلومتره مساحت لري د توريا خصوصي شرکت سره د ۳۰ کلونو لپاره لاسليک شو. د قرارداد له مخې به ياد

[1] په دغه مناسبت د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال ښاغلي الحاج ملا برادر اخوند په مشرۍ يوه ستره غونډه جوړه شوې وه چې د کانونو او پټروليم وزارت، د صنعت او سوداګرۍ وزارت، د اقتصاد وزارت او د ماليې وزارت سرپرست وزيرانو پکې ګډون درلود.

[2] په ټوله کې کانونه په دوه ډوله ويشل کيږي؛ د لوی مقياس کانونه او د کوچني مقياس کانونه. د لوی مقياس کانونه هغو کانونو ته ويل کيږي چې مساحت يې له يو کلومتر مربع څخه زيات وي.

[3] د مس عينک (۱) کان چې ۲۵۰ کلومتره مربع مساحت لري، له ام سي سي چينايي شرکت سره په ۲۰۰۸م کال کې لاسليک شوی ؤ. د اسلامي امارت له حاکميت وروسته يې قرارداد تعديل شوی او په نږدې راتلونکې کې به يې عملي چارې پيل شي. په دې اړه تفصيل راروان دی.

شرکت د ۴۱۱ ملیون ډالرو پانگونه کوي. تړاکل شوی چې په یاد کان کې به ۱۲ سلنه د دولت او ۸۸ سلنه د شرکت سهم اوسي.

**۳- د غور سرب او جست (۲ بلاک)**[1]: د غور ولایت د تولک ولسوالۍ د دوهم بلاک سرب او جست چې ۲۰۷ کلومتره مربع مساحت رانغاړي د افغان انویسټ او ابیکو بین الافغاني شرکتونو سره د ۳۰ کلونو لپاره لاسلیک شول. تړاکل شوې چې یاد شرکتونه به د ۷۵ ملیون ډالره پانگونې سره د ۸۰ سلنه او دولت د ۲۰ سلنه سهم مستحق اوسي.

**۴- غوریان (۱ بلاک)**[2]: د هرات ولایت د غوریان ولسوالۍ د اوسپنې کان (۱ بلاک) د وطن درخشان او د ملي پراختیا شرکتونو سره[3] د ۳۰ کلونو لپاره لاسلیک شو. تړاکل شوې چې یاد شرکتونه به ۲,۸ ملیارد ډالره پانگونې سره د ۸۷ سلنه سهم او دولت د ۱۳ سلنه رویالټۍ مستحق اوسي.

**۵- د غوریان (۲ بلاک)**: د هرات ولایت د غوریان ولسوالۍ د اوسپنې کان (۲ بلاک) د دره نور، ساحل شرق میانه افغاني او اي پېکول ترکي شرکتونو سره د ۳۰ کلونو لپاره لاسلیک شو. تړاکل شوې چې یاد شرکتونه به د ۸۷۴ ملیون ډالره پانگونې سره د ۸۷ سلنه سهم او دولت د ۱۳ سلنه رویالټۍ مستحق اوسي.

**٦- د غوریان (۳ بلاک)**: د هرات ولایت د غوریان ولسوالۍ د اوسپنې کان (۳ بلاک) د شمش ملي افغاني شرکت او GBM برتانوي شرکت سره د ۳۰ کلونو لپاره لاسلیک شو.

[1] د یادونې وړ ده چې د غور ولایت د سربو او جستو کان په ۴ بلاکونو تقسیم شوی، یواځې د دوهم بلاک قرارداد یې ترسره شوی او پاتې ۳ بلاکونه به په نږدې راتلونکي کې په قرارداد ورکړل شي.

[2] د کانونو او پټرولیم وزارت په وینا؛ د هرات د اوسپنې کان مجموعي مساحت ۱۰۰۰ کلومتر مربع دی چې په ۴ بلاکونو ویشل شوی. د یادو ۴ بلاکونو قراردادونه په همدې ورځ لاسلیک شول چې له مخې یې قراردادي شرکتونه مکلف دي چې ۱۰۰ سلنه پروسس به یې په هیواد کې کوي.

[3] د یادونې وړ ده چې له پورتنیو شرکتونو سره په دغه قرارداد کې یو لړ مطرح ایراني شرکتونه هم سهیم دي.

ټاکل شوې چې یاد شرکتونه به د ۲۷۲ملیون ډالره پانگونې سره د ۸۷ سلنه سهم او دولت د ۱۳ سلنه رویالټۍ مستحق اوسي.

**۷- د غوریان (۴ بلاک):** د هرات ولایت د غوریان ولسوالۍ د اوسپنې کان (۴ بلاک) د باختر فولاد افغاني شرکت، او احیای صفاهان او فارسیان ایراني شرکتونو سره د ۳۰ کلونو لپاره لاسلیک شو. ټاکل شوې چې یاد شرکتونه به د ۱,۱۷ ملیارد ډالره پانگونې سره د ۸۷ سلنه سهم او دولت د ۱۳ سلنه رویالټۍ مستحق اوسي.

پورتني د لوی مقیاس هغه ۷ کانونه دي چې په دې وروستیو کې یې د ۶,۵۵۷ ملیارد ډالرو په ارزښت قراردادونه لاسلیکول شول[1](ملي تلویزیون، ۱۴۰۲). د لوی مقیاس نور کانونه چې بهرنۍ او کورنۍ پانگونې یې جذب کړي او عملا یې کارونه جریان لري په لاندې ډول دي:

**۸- د آمو حوزې د نفتو پروژه:** په افغانستان کې د نفتو پنځې حوزې شتون لري؛ لومړۍ حوزه: د آمو سیند حوزه ده، دغه حوزه د افغانستان تر ټولو لویه نفتي حوزه ده چې د ۴۵۰۰ کیلومتره مربع مساحت په درلودو سره په جوزجان، فاریاب او سرپل ولایتونو کې موقعیت لري. دغه حوزه په ۳ بلاکونو؛ د قشقري بلاک، د بازار کمي بلاک، او د زمرد سای بلاک ویشل شوې[2]. دوهمه حوزه: د افغان-تاجک په نوم ده، چې له تخار نه تر بلخ پورې رسیږي او ټولټال مساحت یې ۲۴۰۰۰ کلومتر مربع دی. دریېمه حوزه: په هرات او بادغیس کې ده، چې ۱۳ ولسوالۍ تر پوښښ لاندې راولي، او ټولټال مساحت یې ۲۰۰۰۰

[1] دغه قراردادونه د ۱۴۰۲ لمریز کال د سنبلې په ۹مه چې د ۲۰۲۳ میلادي کال د اگست د ۳۱مې سره سمون خوري لاسلیک شول.

[2] د آمو سیند د نفتي حوزې په اړه ویل کېږي چې ۱۵ ټریلیون مترمکعبه زېرمه لري، چې په دې سره د نړۍ د ۱۵۲ لویو نفتي زېرمو په کتار کې ۱۵م ځای خپلوي. د نفتو د دغه لویې حوزې څېړنې د لومړي ځل لپاره په ۱۹۷۶م کال (له نن شاوخوا ۵۰ کاله مخکې) د سویډني متخصصانو لخوا ترسره شوې.

کلومتر مربع دی. څلورمه حوزه په هلمند او پنځمه په کتهواز کې ده (د کانونو او پټرولیم وزارت، ۲۰۲۳).

د چین د نفتو ملي شرکت سره د آمو سیند د نفتي حوزې قرارداد لومړی تېرې اداري لاسلیک او بیا یې وروسته یو طرفه فسخ کړی ؤ، خو یاد شرکت بیا دغه فسخه قبوله کړې نه وه. د اسلامي امارت له راتگ وروسته د محترمې کابینې او اقتصادي کمیسیون په تایید د دغې حوزې پخوانی تړون د (CPEIC) په نامه چینایي شرکت سره په ۱۴۰۱/۱۰/۱۵ نېټه د لاندې پنځو شرایطو اضافه کولو وروسته لاسلیک شو (هماغه او BNA, 2023 او Nadya Yeh, 2023.):

۱- قراردادي شرکت باید په ۲ میاشتو کې حتما کارونه شروع کړي، که نه نو قرارداد اتومات فسخه کیږي.

۲- اول کال امتحاني دی، که قراردادي شرکت خپل تعهدات د همدې کال تر آخره پوره نه کړل، قرارداد اتومات فسخه کیږي.

۳- کارمندان باید ټول افغانان اوسي، البته که کوم انجینر په افغانستان کې پیدا نه شو، بیا بهرني انجینران استخدامېدلی شي.

۴- د بهرني انجینرانو معاش باید د افغانستان یا د گاونډیو هیوادونو په سویه وي.

۵- د تېلو پروسس باید د افغانستان په داخل کې وشي.

د کانونو او پټرولیم وزارت د معلوماتو له مخې، قراردادي شرکت مکلف دی چې په لومړي کال کې ۱۵۰ میلیونه ډالره او په راتلونکو دریو کلونو کې ۵۴۰ میلیونه ډالره پانگونه وکړي. په دغه قرارداد کې به دولت ۲۰ سلنه ونډه ولري چې دا په آینده کې تر ۷۵ سلنو لوړه شي (د ریاست الوزرا اقتصادي معاونیت، ۱۴۰۱) د یادونې وړ ده چې سره له دې چې د نوموړي قرارداد لومړي ۳ کلونه د اکتشاف مرحله ده، خو بیا هم ترې اوسمهال په منځني ډول ۳۵۰ ټنه نفت استخراجیږي، چې دغه کچه به د ۲۰۲۴ میلادي کال تر جنوری پورې له ۱۰۰۰ ټنو څخه پورته شي (د کانونو او پټرولیم وزارت، ۲۰۲۳).

په کابل کې د چین سفیر، وانګ یو، د قرارداد په لاسلیک سره خوښي وښوده؛ وې ویل، چې دغه قرارداد د افغانستان د اقتصادي ودې او پر ځان بسیاینې لپاره ډېر مهم دی. همداراز نوموړي زیاته کړه چې د یاد قرارداد لاسلیکېدل د دواړو هېوادونو د ښې همکارۍ ښکارندويي کوي او له دواړو لوریو یې وغوښتل چې په ښې همغږۍ سره د قرارداد د موثر تحقق زمینه برابره کړي ( د حکومت د اطلاعاتو او رسنیزو مرکز، ۱۴۰۲).

د کانونو او پټرولیم وزارت ویاند همایون افغان په وینا؛ اوسمهال په قشقري او انګوت سیمو کې د نفتو د استخراج چارې روانې دي، چې ۵ څاګانې یې په قشقري او ۴ څاګانې یې په انګوت سیمه کې فعالې دي. د یادونې وړ ده چې په قشقرۍ کې یوه څاه قشقري یوویشتم نمبر په دې وروستیو کې فعاله شوه، او د قرارداد له مخې به د قشقري مربوط سیمو کې د روان کال په جریان کې ۱۰ نوې څاګانې حفاري او ٦ نورې ترمیم کړی شي (د کانونو او پټرولیم وزارت، ۲۰۲۳).

**۹- د مس عینک** (۱) **پروژه:** د لوګر ولایت عینک سیمه د کابل د سهیل او سهیل لویدیځ په ۳۰ کیلومترۍ کې موقعیت لري. دغه سیمه د مسو د سترې کاني زیرمو په لرلو سره د نړیوالو د پام وړ ګرځېدلې. د مس عینک (۱) پروژې تړون په ۲۰۰۸ کال کې د ۲،۸۳ میلیاردو ډالرو په ارزښت د ۳۰ کلونو لپاره د تېرې ادارې او د (MCC) چینایي شرکت[1] ترمنځ لاسلیک شوی ؤ (د کانونو او پټرولیم وزارت، بې تا).

د اسلامي امارت د ریاست الوزرا اقتصادي معاونیت او کانونو او پټرولیم وزارت له معلوماتو له مخې؛ د ام سي سي چینایي شرکت سره د نوموړې پروژې د کارونو بیا ځلې پیل په موخه څو ځلې حضوري او آنلاین ناستې ترسره شوي، چې دا مهال د یاد وزارت د تخنیکې کمیټې متخصصین د چینایي لورې سره د اړینو موضوعاتو د بررسۍ په موخه

[1] Metallurgical Corporation of China (MCC)

په جدي خبرو بوخت دي[۱]. د یاد کان په اړه هوکړه شوې چې د دغه کان له ساحې څخه د لرغونو اثارو له لېږد او استملاک چارو وروسته به د کان د سپړلو کار له سره پیل شي (د ریاست الوزرا اقتصادي معاونیت، ۲۰۲۲، د کانونو او پټرولیم وزارت، ۱۴۰۲). د یادونې وړ ده چې د چین دولتي اژانس سوت چاینا مارنینګ پوسټ د مس د عینک کان په اړه یوه مطلب کې لیکلي چې د دغې پروژې د فعالولو او له په ټپه ولاړ حالته د راویستلو لپاره د نوي حکومت سره په ګډه هڅې روانې دي (SCMP, 2022).

**۱۰- د ډبرو سکرو پروژې:** د یادونې وړ ده چې په هیواد کې د ډبرو سکرو ټولټال ۸۰ ظواهر شتون لري، چې له جملې څخه یې یواځې په ۱۷ ظواهرو کار روان دی. او کیفیت یې هم ډېر عالي دی. د نوي آمارو په اساس په افغانستان کې ټولټال ۹۰۰ ملیونه ټنه د ډبرو سکاره تثبیت شوي. اوسمهال یې هر کال په منځني ډول ۵ ملیون ټنه بهر ته صادریږي. د کانونو او پټرولیم وزارت سرپرست په وینا؛ د صادراتو بهیر که په همدې اندازه روان اوسي نو اوسنی زیرمې یې د ۱۸۰ کلونو لپاره بسنه کوي (د کانونو او پټرولیم وزارت، ۲۰۲۳). په لاندې کرښو کې مو د ډبرو سکرو د قراردادونو یو څو بېلګې په ګوته کړي (د کانونو او پټرولیم وزارت راپور، ۱۴۰۲):

۱- د هرات ولایت د اوبې ولسوالۍ د نایک په سیمه کې د ډبرو سکرو د کاني ظواهرو قرارداد: یاد قرارداد په ۱۴۴۴/۸/۵ هـ ق نېټه د (۳) کلونو لپاره د کانونو او پټرولیم وزارت او «بلال مدثر حبیب د کانونو د استخراج او پروسس شرکت» تر منځ لاسلیک او اوسمهال د اکتشاف په مرحله کې قرار لري.

۲- د هرات ولایت د کرخ ولسوالۍ د سبزک سیمې د ډبرو سکرو قرارداد: یاد قرارداد په ۱۳۸۵ کال کې د کانونو او پټرولیم وزارت او د وطن درخشان (برادران خوشک) شرکت تر منځ شوی ؤ، په ۱۴۰۰/۱۰/۱۲ نېټه د (۵) پنځو کلونو لپاره تمدید شو.

[1] په دې اړه د کانونو او پټرولیم وزارت سرپرست د چینایي لورې سره لسهاوو ځله ناستې ترسره کړي.

۳- د سمنگان ولایت د دره صوف بالا ولسوالۍ د رشک و قوبي سیمې د ډبرو سکرو قرارداد: یاد قرارداد په ۱۳۹۱/۹/۱۱ نېټه د کانونو او پټرولیم وزارت او د معدن کاران شرکت ترمنځ د (۱۰) کلونو لپاره یو تړون لاسلیک شوی ؤ، په ۱۴۴۴/۱۸/۱۱ نېټه د (۵) پنځو کلونو لپاره تمدید شو.

۴- د سرپل ولایت د بلخاب ولسوالۍ د ډبرو سکرو پروژه: د دغې پروژې تړون د کانونو او پټرولیم وزارت، مالیې وزارت او د ملي پراختیا شرکت ترمنځ لاسلیک شوی. دغه تړون د اقتصادي کمیسیون د ۱۴۴۴/۳/۸ هـ ق نېټې د فوق العاده پریکړه لیک د دوهمې فقرې پر اساس ترسره شوی.

۵- د تخار ولایت د کلفگان ولسوالۍ د گزستان سیمې د ډبرو سکرو پروژه: د یادې پروژې قرارداد په ۱۳۹۱/۱۰/۱۰ نېټه د کانونو او پټرولیم وزارت او د برادران خالد عزیز شرکت ترمنځ د (۱۰) لسو کلونو لپاره لاسلیک شوی ؤ، د یاد شرکت جواز په ۱۴۰۱/۱۰/۱۰ نېټه د (۵) پنځو کلونو لپاره تمدید شو.

**۱۱- د سیمنټو پروژې:** د کانونو او پټرولیم وزارت په وینا؛ په هیواد په بېلابېلو ولایتونو؛ کندهار، پروان، هرات، لوگر، سمنگان او جوزجان کې د سیمنټو ستر کانونه شتون لري. د دغو کانونو په فعالېدو سره به ټولټال د ۱۲۰ ملیونه بورۍ سیمنټو د تولید مرحلې ته ورسیږو، چې په آینده دوو کلونو کې به افغانستان د سیمنټو له اړخه نه یواځې دا چې خودکفا شي، بلکې په یو صادریدونکي هیواد به بدل شي. دا چې په دې اړه څومره پرمختگ شوی په لاندې کرښو کې ورته اشاره کوو (د کانونو او پټرولیم وزارت، ۲۰۲۳):

۱- د کندهار ولایت د شور اندام ولسوالۍ د دامان سیمې د سمنټو پروژه: د سیمنټو د دغې پروژې قرارداد د کانونو او پټرولیم وزارت او د «احمد نبي زاده شرکت» تر منځ په ۱۴۴۴/۱۸/۸ هـ ق نېټه لاسلیک او اوسمهال د اکتشاف په مرحله کې قرار لري. د کانونو او پټرولیم وزارت په وینا یاد شرکت به په کال کې ۲۰ ملیونه ټنه (چې ۲۰ ملیونه بورۍ کیږي) د سیمنټو تولید ظرفیت ولري.

۲- د پروان ولایت سیمنټو پروژه: د کانونو او پټرولیم وزارت په وینا؛ د پروان ولایت د جبل السراج سیمنټو پروژه به ډېر ژر په قرارداد ورکړل شي، په کال کې د یونیم ملیون ټنه (چې ۳۰ ملیونه بورۍ کیږي) سیمنټو د تولید ظرفیت لري.

۳- د هرات ولایت سیمنټو پروژه: د هرات ولایت د زنجدان د سیمنټو پروژه، د ۱ ملیون ټنه سیمنټو تولید ظرفیت لري. د غې پروژې کارونه به ډېر ژر شروع شي.

۴- د لوګر ولایت سیمنټو پروژه: په لوګر ولایت کې د سیمنټو کان اعلان ته ورکړل شوې، چې په کال کې به د ۱ ملیون ټنه سیمنټو تولید ظرفیت ولري.

**۱۲- د کنړ- ننګرهار سنګ مرمر پروژه:** د یادې پروژې قرارداد چې په ۱۳۹۹/۲/۲ نېټه د کانونو وزارت او د «نچرل سټون شرکت» ترمنځ د دیرش (۳۰) کلونو لپاره لاسلیک شوی ؤ، اوسمهال د استخراج په مرحله کې قرار لري.

**۱۳- د کندهار فلورایټ:** د کندهار ولایت په نیش ولسوالۍ کې د فلورایټ قرارداد په ۱۳۹۱/۱۲/۲ نیټه د (۱۰) لسو کلونو لپاره د کانونو او پټرولیم وزارت او «امانیه شرکت» ترمنځ لاسلیک او د یو لړ عواملو له امله له ځنډ سره مخ شوی ؤ، د کانونو او پټرولیم وزارت د محترم مقام د ځانګړې لارښوونې پر اساس د ۴ نورو میاشتو لپاره تمدید شو.

**۱۴-او د هرات ولایت د مس شیدا پروژه:** د یادې پروژې قرارداد د «سکرود ماییننګ شرکت» سره شوی، او اوسمهال د اکتشاف په مرحله کې قرار لري.

### ۳. د کوچني مقیاس کانونه

د کوچني مقیاس کانونه هغو کانونو ته ویل کیږي چې مساحت یې له یو کلومتر مربع څخه زیات نه وي. د اسلامي امارت د کانونو د تنظیم د عمومي ریاست د رسمي آمارو

له مخې، د کوچني مقیاس کانونه چې اوسمهال پرې کار جریان لري په لاندې ډول دي(د کانونو او پټرولیم وزارت راپور، ۱۴۰۲)[۱]:

| شمېره | کانونه | موقعیت | پانګونه | رویالټي في ټن | افرادي ځواک |
|---|---|---|---|---|---|
| 1 | د ډبرو سکاره | هرات | ۱۷۳۹٤۲۱۷۹ اف | 1700 | 429 |
| 2,3 | تراورټین[۲] | پروان | ۱۰۰۰۰۰۰ اف | 405 | - |
| 4 | سنګ مرمر | میدان وردګ | ۲۰۸۰۰۰۰۰ اف | 500 | 46 |
| 5 | سنګ مرمر | کندهار | ۱۰٦۸۵۰۰۰ اف | 500 | 37 |
| 6 | سنګ مرمر | کندهار | ٥٤۳٦٤٤۸۰ اف | 500 | 23 |
| 7 | سنګ مرمر | کندهار | ۱۳۳٦۳۰۰ دالر | 500 | 52 |
| 8 | سنګ مرمر | کندهار | ۹۹۸٥٦۰۰۰ اف | 500 | 85 |
| 9 | سنګ مرمر | کندهار | ۳۸٥٤٥٥ دالر | 500 | 85 |
| 10 | نفرایټ | ننګرهار | ۱٤۲۰۱۳۰۰۰ اف | 1760000 | 55 |
| 11 | نفرایټ | ننګرهار | ۱۰٦۱٥۰۰ دالر | 1400000 | 105 |
| 12 | نفرایټ | ننګرهار | ٥۰۰۰۰۰۰ اف | 1050000 | 100 |
| 13 | نفرایټ | کنړ | ۸٦۳۱۷۰۰۰اف | 475000 | 37 |

[۱] باید وویل شي چې یاد لست یوازې د هغو کوچنیو کانونو دی چې د کانونو او پټرولیم وزارت لخوا په راپور کې یې یادونه شوې او جزئیات یې ورکړل شوي. د معلوماتو له مخې په دې سربېره د کوچني مقیاس نور فعال کانونه هم شته دي چې جزئیاتو ته مو لاسرسی نه دی پیدا کړی.

[۲] تراورتین د چونې یوه بڼه ده چې معمولا د کاشي په جوړولو کې کارول کیږي. وګوره: د کانونو او پټرولیم وزارت مجله، فرصت های سرمایه گزاری در سکتور صنایع استخراجی افغانستان، ۱۳۹۸، مخ ۱۲.

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| 14 | نفرایټ | کنړ | ۷۵۰۰۰۰۰۰ اف | 400000 | 53 |
| 15 | تراورتین | غزنی | ٦۳۳۸۵۰۰۰ اف | 2020 | 33 |
| 16 | نفرایټ | ننگرهار | ۱٦۷۸۰۰۰۰۰ اف | 5787362 | 61 |
| 17 | نفرایټ | ننگرهار | ۱۲۰۵٦۰۰ دالر | 700000 | 30 |
| 18 | سنگ مرمر | میدان وردگ | ۲۸۰۰۰۰ دالر | 913 | 18 |
| 19 | نفرایټ | ننگرهار | ۱٤۲۰۱۳۰۰۰ اف | 1630000 | 55 |
| 20 | نفرایټ | کنړ | ۹٦٤۰۰۰۰۰ اف | 1050000 | 52 |
| 21 | نفرایټ | ننگرهار | ۳۵۲۲٦۰۰۰ اف | 1200000 | 22 |
| 22 | نفرایټ | ننگرهار | ٦۰۱۷۸۰۰۰ اف | 1600000 | 33 |
| 23 | نفرایټ | ننگرهار | ۱۱۵٦۰۰۰ اف | 550000 | 32 |
| 24 | مالگه | هرات | ٤۰۰۰۰۰ دالر | 1122 | 330 |
| 25 | سنگ مرمر | کابل | ۱۳۰۰۰۰۰ اف | 450 | 26 |
| 26 | سنگ مرمر | کندهار | ۳٤۹۵۰۰ دالر | 150 | 32 |
| 27 | سنگ مرمر | میدان وردگ | ۲۳۰۰۰۰۰۰ اف | 410 | 24 |
| 28 | تراورتین | پروان | ۵۰۰۰۰۰ دالر | 1800 | 45 |
| 29 | گچ | هرات | ۵۵٦۳۰۰۰ اف | 450 | 30 |
| 30 | گچ | غزنی | ۲۲٤۳۷۰۰۰ اف | 605 | 26 |
| 31 | گچ | تخار | ۲۵۰۰۰۰۰ اف | 350 | 29 |
| 32 | کرومایټ | لوگر | ۳۱۰۰۰۰۰ اف | 11350 | 37 |
| 33 | کرومایټ | لوگر | ٤۵۰۰۰۰۰۰ اف | 11350 | 62 |
| 34 | کرومایټ | لوگر | ۳۳۰۰۰۰۰۰ اف | 11350 | 67 |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| 35 | کرومایټ | زابل | ٦٤٩٩٤٥٠٠ اف | 11350 | 150 |
| 36 | کرومایټ | کندهار | ٢٣٧٥٠٠٠ اف | 11350 | 37 |
| 37 | کرومایټ | کندهار | ٦٩٦٥٥٠٠٠ اف | 11350 | 37 |
| 38 | کرومایټ | زابل | ٥٥٠٠٠٠٠ دالر | 11350 | 56 |
| 39 | کرومایټ | لوگر | ١٢٠٠٠٠٠٠ اف | 11350 | 48 |
| 40 | گچ | غزنی | ٢٦٨٧٠١٠٣ اف | 801 | 27 |
| 41 | کرومایټ | زابل | ٣٨٩٥٥٠٠٠ اف | 11350 | 37 |
| 42 | نفرایټ | کنر | ٤٠٨٧٦٣٦٩ اف | 5000000 | 32 |
| 43 | نفرایټ | پروان | ٣٥٠٠٠٠٠٠ اف | 450000 | 49 |
| 44 | تراورټین | کابل | ٢٥٧٢٠٠٠ اف | 500 | 29 |
| 45 | مرمر | غزنی | ٦٣٣٨٥٠٠٠ اف | 550 | 31 |
| 46 | گچ | هرات | ٢٠١٦٧٠٠٠ اف | 731 | 26 |
| 47 | گچ | بغلان | ١٥٧١٨٠٠٠ اف | 600 | 48 |
| 48 | مرمر | ننگرهار | ١٢٢٥٤٠٠٠٠ اف | 1920 | 34 |
| 49 | گچ | ننگرهار | ٥٥٢٢٠٠٠٠ اف | 301 | 32 |
| 50 | گچ | بغلان | ١٢٧٧٤٠٠٠ اف | 600 | 48 |
| 51 | گچ | میدان وردگ | ١٨٠٠٠٠٠٠ اف | 1000 | 29 |
| 52 | نفرایټ | میدان وردگ | ٥٨٠٠٠٠٠٠ اف | 2000000 | 31 |
| 53 | نفرایټ | پروان | ٥٠٠٠٠٠٠٠ اف | 380000 | 28 |
| 54 | نفرایټ | ننگرهار | ٦٢٩٥٠٠٠٠ اف | 520000 | 26 |
| 55 | گچ | بامیان | 0 | 300 | 22 |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| 56 | نفرایټ | میدان وردگ | ۵۵۰۰۰۰۰۰ اف | 410000 | 20 |
| 57 | کورتز[1] | کندهار | ۱۳۵۸۱۵۰۰ اف | ۱۸۰۰۰ | 20 |
| 58 | مرمر | بغلان | ٤٤٩٢٢٥٠٠ اف | ۹۰۰ | 30 |
| 59 | نفرایټ | کنړ | ۲۳۵۵۰۰ دالر | 500000 | 60 |
| 60 | سرپنتین[2] | کابل | ٦٦۰۰۰۰۰ اف | 25000 | 20 |
| 61 | مرمر | بغلان | ٤۹۳٤۲۵۰۰ اف | 900 | 30 |
| 62 | فلورایټ | کندهار | ۱۱۷۳٤۰۰۰۰ اف | 5000 | 60 |
| 63 | تالک[3] | کندهار | ۳۲۱۷۲۵۰۰ اف | 1500 | 30 |
| 64 | سنگ مرمر | بغلان | ۸۸۹۳۰۰۰۰ اف | 435 | 24 |
| 65 | د ډبرو سکاره | سمنگان | ۳۰۰۰۰۰۰ دالر | 3000 | 400 |
| 66 | مرمر | کابل | د کابل د کانونو ریاست | 600 | 24 |
| 67 | د ډبرو سکاره | سمنگان | ٦٦۳۲۵٦۷۰۰ اف | 3000 | 32 |
| 68 | سرب وجست | کندهار | ۳۰۲۷۷۱۸۰۰ اف | 15% | 70 |
| 69 | سرپنتین | پکتیا | 8970625اف | 24000 | 16 |
| 70 | کرومایټ | خوست | ۳۵۵۷۰۰۰۰ اف | 9500 | 49 |
| 71 | کرومایټ | خوست | ٤۷۸۵٤۵۰۰ اف | 10500 | 200 |
| 72 | تالک | پکتیا | ٤۷۸۵٤۵۰۰ اف | 1500 | 300 |
| 73 | کرومایټ | پکتیا | ۳۰٦۹۳۰۰۰ اف | 10585 | 49 |
| 74 | فلورایټ | کندهار | ۱۰۲۰۰۰۰۰۰ اف | 44280 | 80 |

[1] Quartz

[2] Serpentine stone

[3] Talc

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| 75 | مرمر | میدان وردگ | ۲۸۹۰۰۰ دالر | 500 | 35 |
| 76 | طلای پاشان | تخار | ۵۵۲۲۰۰۰۰ اف | 40% | 150 |
| 77 | گچ | بادغیس | ۲۷۷۱۲۲۰۰ اف | 315 | 100 |
| 78 | کرومایټ | خوست | ۳٤۵۷۲۵۰۰ اف | 11351 | 37 |
| 79 | کرومایټ | خوست | ۵۸۵۷۰۰۰۰ اف | 10000 | 16 |
| 80 | نفرایټ | ننگرهار | ۱۶۰۳۸۰۰۰ اف | 2000000 | 69 |
| 81 | نفرایټ | ننگرهار | ۳۵۲۰۹۰۰۰ اف | 2000000 | 63 |
| 82 | مرمر | غزنی | ٤۱۱۸۰۰۰۰ اف | 450 | 50 |
| 83 | نفرایټ | ننگرهار | ۵۰۶۰۸۰۰۰ اف | 290000 | 34 |
| 84 | سرب اوجست | بامیان | ۱۳۱۳٦٤۰۰۰ اف | 17%[1] | 100 |
| 85 | نفرایټ | ننگرهار | ٦۷٦۵۰۰۰۰ اف | 550000 | 28 |
| 86 | مالگه | تخار | ۵۵۰۰۰۰۰ اف | 1400 | 48 |
| 87 | مالگه | تخار | ۲۲۹۷۲۰۰۰۰ اف | 1500 | 1000 |
| 88 | سرب وجست | کندهار | ۲۱٦۲۳۷۰۰۰ اف | 17% | 45 |
| 89 | مالگه | تخار | ۲۹٦۳۰٤٤۰۰ اف | 1125 | 46 |
| 90 | سرب وجست | کندهار | ۱۵۵۲۱۰۰۰۰ اف | 18% | 44 |
| 91 | تالک | لوگر | ۲۸۰۰۰۰۰۰ اف | 1800 | 40 |
| 92 | نفرایټ | کاپیسا | - | 400000 | 38 |
| 93 | مالگه | سمنگان | 35278000 | 3080 | 21 |
| 94 | نفرایټ | لوگر | | 2220000 | 31 |

[1] ۱۷٪ له ۱۰۰٪ تصفیه شوو موادو څخه

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| 95 | سرب وجست | هرات | | 17% | 100 |
| 96 | نفرایټ | ننگرهار | | 51% [1] | 17 |
| 97 | نفرایټ | ننگرهار | | 51% | 17 |
| 98 | کلسیت | لوګر | | 15000 | 50-70 |
| 99 | تراورټین [2] | کابل | | 900 | 26 |
| 100 | نفرایټ | کنړ | | 2430000 | 65 |
| 101 | مرمر | کندهار | | 1900 | 69 |
| 102 | مرمر | کندهار | | 1900 | 69 |
| 103 | مرمر | کندهار | | 1900 | 69 |

## ٤. د اداري فساد مخنیوی

اداري فساد هغه ښکارنده ده چې زموږ دولتي اداري ورسره له ډېر پخوا راهیسې مخ دي. او زموږ د پرمختګ پر وړاندې یو له سترو خنډونو څخه دی. د اداري فساد د ریښو پیدا کول او د یوې ملي پدیدې په توګه پېژندل، د فساد په وړاندې د عامه افکارو راپارول او داسې نورې ورته لارې چارې کولې شي، چې د اداري فساد په له منځه وړلو کې مرسته وکړي. د اداري فساد د مخنیوي په برخه کې د دولت رول او نقش خورا اړین دی چې دولتونه باید د اداري فساد پر ضد د مبارزې هوډ او جدیدیت له ځانه سره ولري. چې خوشبختانه د اسلامي امارت په راتګ سره دا هوډ تر ډېره حده پیاوړی شوی.

د هېواد په کاني زېرمو کې د اداري فساد د مخنیوي په موخه، د کانونو او پټرولیم وزارت یو لړ اصلاحات ترسره کړي، چې په لاندې کرښو ورته ځغلنده اشاره کوو:

[1] پاتې ٪۴۹ د استخراج کوونکي شرکت سهم دی.

[2] Travertine

**۱- د غیر قانوني کیندنو مخنیوی:** باید وویل شي چې د اسلامي امارت له راتګ مخکې، د کانونو غیر قانوني کیندنه یوه ستره ننګونه وه چې د لسیزو راپدیخوا یې ټول هیواد له ستونزو سره مخ کړی ؤ، د ا.ا.ا. واک ته له رسېدو سره سم له لومړۍ ورځې څخه په دوامداره توګه کار کوي چې د کانونو غیر رسمي کیندنو او قاچاق مخه ونیسي. د کانونو او پټرولیم وزارت په وینا؛ د کانونو او پټرولیم وزارت د غیر قانوني کان کیندنې په هکله جدي دی، او د عاملینو سره یې قانوني برخورد کوي.... الحمد لله په دې برخه کې د پام وړ لاسته راوړنې شته، او ډیرې هغه کاني ساحې چې پخوا په غیرقانوني ډول کیندل کیدې اوس یې کیندل بند شوي دي. د کانونو د غیر قانوني استخراج د مخنیوي ترڅنګ د کانونو او پټرولیم وزارت د یادو ساحو د رسمي کولو لپاره کار کوي چې یاده چاره به په دایمي ډول ختمه کړي (د کانونو او پټرولیم وزارت، ۲۰۲۳).

د کانونو د غیر قانوني استخراج د مخنیوی په موخه د یاد وزارت په تشکیل کې د کانونو د ساتنې کمیټې د انسجام ریاست جوړ شوی تر څو د هیواد د کانونو څخه په ښه توګه ساتنه وکړي. د کانونو او پټرولیم وزارت د اړونده اداراتو په همکارۍ بېلابېلو ولایتونو لکه بدخشان، ننګرهار، سرپل، پنجشیر، بامیان او لوګر کې د کانونو ساتنې محافظاتي قطعې موظف کړي چې د کان کیندنې پروژو په ساتنې او امنیت ټینګښت بوخت دي. همدا راز په ۲۴ ولایتونو کې له ۹ اورګانونو څخه مشتمله یوه کمیټه جوړه شوې، چې د غیر قانوني کان کیندنې مخنیوی کوي (هماغه).

**۲- شفافه داوطلبي:** د کانونو او پټرولیم وزارت د معلوماتو له مخې؛ د قراردادونو پروسه په دا ډول ده چې د لوی مقیاس کانونه له سروې کېدو وروسته اعلان ته سپارل کیږي. له هغې وروسته علاقمند شرکتونه بیا پروپوزلونه رالیږي. دغه پروسه له سمتي او مذهبي تعصب پرته په ډیر شفافه توګه ترسره کیږي. د معلوماتو له مخې؛داخلي او خارجي شرکتونه کولی شي چې د اصولو سره سم خپل پروپوزلونه راولیږي. د کانونو د داوطلبۍ پروسه په پوره روڼتیا سره د داوطلبو استازو او د رسنیو په حضور کې د ازادې سیالۍ له

لارې ترسره کیږي، ترڅو په پوره روڼتیا، ښه قیمت او د هیواد ملي ګټو په نظر کې نیولو سره قرارداد صورت ونیسي (هماغه).

**۳- د تېرې ادارې قراردادونو بیا ارزونه:** هغه قراردادونو ته په اشارې چې د تېرې ادارې له خوا ورکړل شوي ؤ د وزارت ویاند وویل: «قراردادونه چې د تېرې ادارې لخوا ورکړل شوي ؤ، د هغوی بیا ارزونه وه، دا ځکه چې پخوا شفافیت وجود نه درلود، منتهی اسلامي امارت په دې وتوانیدو چې ۱۰۸ کوچني قراردادونه تجدید کړي.... د چینایانو سره د آمو سیند د نفتي حوزې قرارداد چې له تېرې ادارې سره ترسره شوی ؤ، په هغې کې د یوې څاه حفاري له ٦ نه تر ۷ ملیون ډالرو مصرف درلود، خو په نوي قرارداد کې له نوې ټکنالوژۍ په استفادې نوموړی مصرف ۳ ملیون ډالرو ته راکم شوی (هماغه).

**۴- طرز العمل جوړول:** باید وویل شي چې د تېرې ادارې په وخت کې د هېواد ډېری کانونه د سیمه ییزو زورواکانو لخوا په غیر قانوني ډول کیندل کېدل او یا هم د فساد له امله ترلاسه شوي عواید د حکومت حساب ته نه جمع کېدل. د دې ستونزې د مخنیوۍ په موخه، اسلامي امارت د کانونو د استخراج په اړه نوی طرز العمل ترتیب کړی چې د ځانګړي اهمیت درلودونکی دی. د یاد طرز العمل په اساس د کانونو قراردادونو د ورکړې او تطبیق په برخه کې پوره شفافیت رامنځته شوی او هر څوک کولای شي د قراردادونو ترلاسه کولو په پروسه کې په آزاده توګه برخه واخلي (هماغه).

**پایله**

په تېرو دوو کلونو کې اسلامي امارت توانېدلی چې د ملي بودیجې مهمه برخه د کانونو له لارې تمویل کړي او د اقتصاد په ټپه درېدلی څرخ یوځل بیا په حرکت راولي. د کانونو او پټرولیم وزارت له لورې په قانوني ډول د کانونو په استخراج سره زرهاوو هېوادوالو ته کاري فرصتونه برابر شوي، او دغه فرصتونه ورځ تر بلې په زیاتېدو دي. که د کانونو د کیندنې، داوطلبۍ، او له دې لارې د عوایدو راټولولو پروسه په همدې شفاف ډول دوام

ولري، د څو کلونو په تېرېدو سره به افغانستان په ډېرو برخو کې د خودکفایۍ مرحلې ته ورسېږي او د یو خپلواک پرمختللي اقتصادي نظام څښتن به شي.

د اسلامي امارت له واکمنېدو وروسته، د کانونو په سکتور کې د ملیاردونو ډالرو په ارزښت پانګونې ته لېوالتیا ښودل شوې. په دې وروستیو کې، یوازې په لیتیمو کې د ۱۰ ملیاردو ډالرو په ارزښت د سرمایه ګذارۍ لېوالتیا ښودل شوې. د کانونو په سکتور کې د لویو پانګونو عملي بېلګه؛ د ۱۴۰۲ لمریز کال د سنبلې په ۹مه د کانونو او پټرولیم وزارت او د یو لړ افغاني او بهرنیو شرکتونو ترمنځ د ٦،۵۵۷ ملیارد ډالرو په ارزښت د ۷ سترو کانونو قراردادونه لاسلیکول وو. بله ښه بېلګه یې د آمو سیند د نفتي حوزې تړون دی چې له مخې به یې چینایي شرکت په راتلونکو دریو کلونو کې ۵۴۰ میلیونه ډالره پانګونه وکړي. همدارنګه د یاد وزارت د رسمي آمارو له مخې یوازې تېر کال (۱۴۰۱-۱۴۰۲) د هیواد په بېلابېلو ولایتونو کې ۱۰۸ کوچني کانونه کورني پانګه والو ته په قرارداد ورکړل شوي، چې د معدن کارۍ په مختلفو مرحلو کې قرار لري.

د کانونو او پټرولیم وزارت د معلوماتو پر بنسټ، اسلامي امارت په تېرو دوو کلونو کې ۲۰۰ د لوی او کوچني مقیاس کانونه په قراداد ورکړي چې عملا یې استخراج جریان لري. د لوی مقیاس په مهمو کانونو کې د تخار طلا، د لوګر مس عینک (۱، ۲)، د هرات مس شیدا، د غور سرب او جست، د هرات د غوریان اوسپنه، د آمو حوزې نفت، د هرات، سمنګان، سرپل او تخار ډبرو سکاره ، د کندهار، هرات، پروان او لوګر سیمنټ او د کندهار فلورایټ کانونه او پروژې یادولی شو. همدارنګه د کوچني مقیاس په کانونو کې د سرپ او جست، ډبرو سکاره، مرمر، نفرایټ، کرومایټ، تراورټین، سرپنټین، مالګه، ګچ، او تالک یادونه کولی شو.

د اسلامي امارت له حاکمیت وروسته د کانونو په سکتور تر ډېره بریده د اداري فساد مخه نیول شوې. اسلامي امارت توانېدلی چې په ټول هیواد کې د غیر قانوني کیندنو په کلکه مخنیوی وکړي. او هیچا ته اجازه ورنکړي چې د هیواد کانونه چې د ملت شتمني

ده په غیر قانوني توګه استخراج او قاچاق کړي. کورني او بهرني پانګه وال کولی شي یواځې له قانوني لارو د طرزالعمل مطابق په شفافه توګه د کانونو د ورکړې په داوطلبۍ کې شرکت او رقابت وکړي. له دغو اصلاحاتو سره هیلې راټوکېدلې چې افغانستان به د اقتصادي ثبات پر لور پرمختګ وکړي.

**وړاندیزونه:**

۱- په هیواد کې د جګړو ختمېدلو، د سرتاسري امنیت تأمینېدلو، د زورواکۍ او اداري فساد له منځه تللو د کانونو په سکتور کې د بهرنۍ او کورنۍ پانګونې لپاره زرین فرصت رامنځته کړی. له دغه فرصت څخه باید د پانګونې په جلبولو کې کار واخیستل شي. دې موخې ته د رسېدو لپاره د تبلیغاتي دستګاه قوي کولو ته اړتیا لیدل کیږي چې متاسفانه ډېر کار ورته نه دی شوی.

۲- د افغانستان ډېری کانونه له پروسس پرته بهرنیو هېوادونو ته صادرېږي چې اعظمي ګټه یې هیوادوالو ته نه رسېږي. باید هڅه وشي ترڅو د دغو کانونو ۱۰۰ سلنه پروسس د هېواد په داخل کې وشي؛ تر څو په هېواد کې هم کاري فرصتونه زیات شي او هم مو بهر ته د صادراتو ارزښت لوړ شي.

۳- که د کانونو استخراج په معیاري او مسلکي ډول ترسره کړل شي، عصري وسایل او ماشینري ورته راوړل شي، پرته له شکه دا به د کانونو په سکتور کې یو لوي تحول رامنځته کړي او د هېواد اقتصاد به د خودکفایۍ پر لور سوق کړي.

۴- د کانونو ترڅنګ، افغانستان په نورو بېلابېلو سکټورونو لکه انرژۍ او برېښنا، کرنې، روغتیا، صنعت، معلوماتي ټکنالوژۍ، سوداګرۍ او داسې نورو برخو کې هم د پانګونې لپاره خورا ډېر فرصتونه لري. له دغو فرصتونو څخه هم باید د بهرنۍ پانګونې په جلبولو کې کار واخیستل شي او دې موخې ته د رسېدو لپاره د تبلیغاتي دستګاه پر تقویه کولو تمرکز وشي.

۵- په پای کې باید وویل شي چې د سرتاسري امنیت او د قوي حکومت د رامنځته کېدو، د جګړو، زورواکۍ او اداري فساد له منځه تللو وروسته نړیوال بندیزونه او په رسمیت نه پېژندل هغه څه دي چې نړیوال معیاري شرکتونه یې له پانګونې بې زړه کړي دي. په دې اړه جدي هڅې پکار دي ترڅو د نړۍ په سطحه مطرح پانګوال پانګونې ته زړه ښه کړي او په پایله کې د دولت او ملت اقتصادي ستونزو ته د پای ټکی کېښودل شي.

**منابع**

۱- د رياست الوزرا اقتصادي معاونيت (۱۴۰۱)، د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په حضور کې د کانونو او پټروليم وزارت او چينايي کمپنۍ (CPEIC) تر منځ «د امو سيند د حوزې د تېلو استخراج» قرارداد لاسليک شو، ۱۴۰۱/۱۰/۱۵، په آنلاين بڼه:

https://dpmea.gov.af/ps/د-رياست%E2%80%8Cالوزراء-اقتصادي-مرستيال-محترم-ملا-عبدالغني-برادر-اخوند-په-حضور-کې-د-کانونو-او-پټروليم-وزارت

۲- د رياست الوزرا اقتصادي معاونيت (۲۰۲۲)، اقتصادي کمېسيون؛ له MCC چينايي کمپنۍ سره دې د مس عينک کان د تړون تخنيکي اړخونه و ارزول شي، ۲۰۲۳/۵/۲۳، په آنلاين بڼه:

https://dpmea.gov.af/ps/اقتصادي-کمېسيون؛-له-mcc-چينايي-کمپنۍ-سره-دې-د-مس-عينک-کان-د-تړون-تخنيکي-اړخونه-و-ارزول-شي-۰

۳- د رياست الوزرا اقتصادي معاونيت (بې‌تا)، په آنلاين بڼه:

https://dpmea.gov.af/ps/انفوگرافيک

۴- د کانونو او پټروليم وزارت راپور (۱۴۰۲)، د بهرنيو چارو وزارت د ستراتيژيکو مطالعاتو رياست ته د لوی او کوچني مقياس کانونو په اړه لېږل شوی راپور، نېټه: ۱۴۰۲,/۵/۲۹

۵- د کانونو او پټروليم وزارت (۱۴۰۲)، د مس عينک پروژې عملي کول د اسلامي امارت له عمده لومړيتوبونو څخه دي، ۱۴۰۲/٦/۸، په آنلاين بڼه:

https://momp.gov.af/ps/د-مس-عينک-پروژې-عملي-کول-د-اسلامي-امارت-%C2%A0له-عمده-لومړيتوبونو-څخه-دي

٦- د کانونو او پټروليم وزارت (۲۰۲۳)، ملت ته د حساب ورکولو پروگرام، ۲۰۲۳/۷/۲٦، په آنلاين بڼه:

https://www.youtube.com/watch?v=rXL5OfL0Kjw

۷- د کانونو او پټرولیم وزارت (بې‌تا)، مس عینک، په آنلاین بڼه:
https://momp.gov.af/ps/مس-عینک

۸- د حکومت د اطلاعاتو او رسنیزو مرکز (۱۴۰۱)، **کانونو او پټرولیم وزارت له CPEIC چینايي شرکت سره، د آمو سیند حوزې د نفتو استخراج قرارداد لاسلیک کړ**، ۱۴۰۱/۱۰/۱۵ په آنلاین بڼه:
https://gmic.gov.af/ps/2023/01/05/کانونو-او-پټرولیم-وزارت-له-cpeic-چینايي-شرک/

۹- ملي تلویزیون (۱۴۰۲)، د هیواد د اوو لویو کانونو د استخراج او پروسس تړونونو د لاسلیک مراسم، ۲۰۲۳/۸/۳۱، په آنلاین بڼه:
https://www.youtube.com/watch?v=R5_W4najsnk

- 10- BNA, (2023), IEA Signs 25 Years Oil Extraction Contract with China, Retrieved January 5, 2023, from: https://bakhtarnews.af/en/iea-sign-25-years-oil-extraction-contract-with-china/

- 11- Nadya Yeh, (2023), Afghanistan inks an oil deal with China, but the Taliban and Beijing don't really trust each other, Retrieved January 5, 2023, from: https://thechinaproject.com/2023/01/05/afghanistan-inks-an-oil-deal-with-china-but-the-taliban-and-beijing-dont-really-trust-each-other/

12- Ariana News, (2023) Chinese firm offers IEA $10 billion investment in lithium reserves, Retrieved April 14, 2023, from: https://www.ariananews.af/chinese-firm-offers-iea-10-billion-investment-in-lithium-reserves/

13- SCMP, (2022), Taliban guards Afghanistan's once-hated Buddhas as it waits for China to turn giant copper deposit into cash, 28/3/2022, see at: https://www.scmp.com/news/asia/article/3172122/taliban-guards-afghanistans-once-hated-buddhas-it-waits-china-turn-giant?module=perpetual_scroll_0&pgtype=article&campaign=3172122